پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

------------------------------

## *په افغانستان کی د«ملی وحدت حکومت» دجوړیدو دپاره دامریکی دمتحده ایالاتو جمهور ریس بناغلی «اوباما» د افغانستان د جمهوری ریاست نوماندو هریوغنی «احمدزی» اوعبدالله «عبدالله» سره (۴۰) ځلی تیلیفونی خبری کړی دی*

-------------------------------------------------------

دامریکی متحده ایالات اود سپینی ما نی چارواکو اودهغه اداره ستر کارپوهانو په دی شپو اوورځو کی دافغانستان دموجوده بحرانی وضع په اړه دخپل ناسم سیاست په اباسین کی دډیرو لامبوهلو څخه په سترتیا کی دنا امیدی اودبی اعتمادی په ساه ایستلودحل لاری لټوی اوپه ځړتونوکی ډوب دی، که نه ددی هیڅ ضرورت نه لیدل کیده چی د امریکی د متحده ایالاتو د با ند نیوچارو وزیر او د هغه دولت لوړ پوړی چا رواکی د افغانستان اودامریکی ترمینځ دتګ اوراتګ هوایی پول جوړ کړی اوخپله او «باما» له ډیر تیلیفون کولو څخه ستړی اوستومان شی .هوکی په ښکاره بنی اوبی له هرډول شک اوتردید څخه باید داسی وویل شی چی افغانستا ن دامریکی دنا سم پا لیسی او دافغانستان دجهادی چاروا‌کو دسپک سری په پا یله کی ننی افغانستان دیوشمیر بوږنونکی ستونزو سره لاس په ګریوان دی کوم چی هغه ستونزی او پرابلمونه دا دی :

* نا امنی اودیاغی طالبانو رغړیدل .
* تشه خزانه .
* له افغانستان څخه جمعی مهاجرتونه اود پانګی یا دسرما یی ایستل.
* بډی اوفساد له ارګ څخه تر دکلی ملک پوری .
* جنسی تجاوز اودښځو خودسوزی .
* دجهادی ډلو اودهغو درسمی واکدارانو له حده زیات استکبار او ګردن شخی .
* دافغانستان دویش اودتجزیی دعاملانو اخطار او ګواښونه .
* د عبدالله عبدالله په شاوخوا کی دمجاهد ینو اودافغانستان دشتمنیو اود خلکو ګڼ شمیر، جنګی جنایتکارانو رشوتخورانو غلو اوقاچاقبرانوراټولید ل اودخپل موقف دساتلو دپاره په دسیسو اوتوطولاس پوری کول اوهغه هم ددی دپاره چی څوک هغوی دخلکو محکمی ته ونه لیږی .
* دامریکی دمتحده ایالاتو دجمهور ریس پرله پسی ګواښونه دامریکی دنظامی قوتونو

ایستل له افغانستان څخه که چیری دافغانستان  اودامریکی ترمینځ  امنیتی  تړون لاس لیک ونشی.
* ددیورند دخط په اوږدو کی دپاکستان له خوا دامریکی دمتحده ایالاتو په اجازه سره دخندقونو ایستل  اوپه دی  عمل سره افغانستان ته تشویش برابرول .
*  یواځی دنوم په ایښودو سره دوحدت ملی دحکومت یا د  نوی سهامی شرکت  جوړول
* اویو شمیر نور  بوږنونکی پرابلمونو کوم چی دهغو شمیرنه ددی قلم له  حوصیلی څخه دباندی دی .



د ډیر پخوا زمانو څخه مشرانو اود تجربی خاوندانو  ویلی دی  چي  په یوه  اقلیم کی دوه سلطان نه ځایږی اوبیا هغه پاچاهان  لکه  اشرف غنی «احمدزی» او عبد الله  «عبدالله» ددوه متضاد مفکوری او خط مشی چی  یو اوبل ته ددی انتخاباتی مبارزی  په دوران کی ترخی اوبدی خبری  رد اوبدل کړل،   دوی  نه یواځی  پخپلو مینځو کی سره کرکی لرل بلکه دهغو پلویانو په تلویزیونی ناستو کی یو اوبل ته داسی نا سم اوله  اخلاق  څخه لری خبری او بد ورد ویل چی دتماشا کونکی انزجار را پارول  اوبیا  په ځانګړی  ډول هغو چی دوی ته رای ورکړی وه  له خپل رای ورکولو څخه اوس پیښمانه شوی دی اوداځکه چی دهغو رای ته چا درناوی ونکړل ،  اوس چی دوی دواړه  دامریکی  تر  فشار لاندی سره جوړ جاری کړی او وحدت ملی دحکومت جوړولو ته  ملا تړلی دی  ایا دا دوحدت ملی حکومت  کارمندان به  یواځی ددوی دکدرونو په  انتصاب سره جوړیږی  اویا داچی په دی نوی حکومت ګی تولو نورو درګیرو اودافغانستان کار پوهانو ته  هم ونډه ورکول کیږی ؟  بله لویه ستونزه کوم چی  دغه دواړه سره سیال دقدرت  خاوندان  مخامخ  دی هغه داولس هغه غوښتنی دی چی  جنګی  جنایتکاران ، د خلکو د جایدادونو  غاصبا ن ،

دافغانستان داولس قاتلان ، مفسدان ، قاچاق وړونکی ، دبانکونو لوټماران کوم چی زیتر یی ټول د عبدالله «عبد الله تر شا وخوا را ټول شوی دی باید دقانون پنجی ته وسپارل شی ایا دوی یعنی «احمدزی» او «عبدالله » دخلکو دغه روا غوښتنی به پر ځای کړی اومجرمین به محکمی ته وسپارل شی ؟ یاداچی دهغوی سره جوړ جاړی وکړی اوبیا یی په لوړو مقامونو کی مقرر کړی ؟ ددی سوالونو ځواب دهغوی په راتلونکی کړونو کی به تر لاسه شی .

دلته لازم ګڼل کیږی چی ددغه په اصطلاح د «وحدت ملی حکومت » په رامینځته کیدو کی یولړ اړین موضوعات په ریالیستکی بڼی سره تر کتنی لاندی ونیسو لکه :

په قومی اواتنیکی لحاظ سره دموازی حکومتونو جوړول یا په یوه حکومت کی دوه ګونی سرمشری پځپله دیوهیواد دټولو اړخونو(اجتماعی ، اقتصادی ، فرهنګی ، سیاسی ....)اودټولوزیربنا یی نهادونو تخریب اوویجاړول دی اوبیا په ځانګړی بڼه لکه افغانستان کوم چی دهغه ورځنی فعالیتونه یی دبا ند نیو هیوادونو په مالی مرستی پوری تړلی وی .

په هرصورت ټولو ته لکه لمر په شان اوس څرګند شو چی دغه دوه رقیب کاندیدان یعنی غنی «احمدزی» اوعبدالله «عبدالله» په ګډه سره دوحدت ملی حکومت په جوړیدو باندی وروسته له هغه چی دخپل جنجالی انتخاباتی مبارزی په دوره کی دافغانستان خلک یی په دوه د سته با ندی وویشل د بین المللی ټولنو په وسا طتت پرته دافغانستان دخلکوله ارادی څخه د مسا وی قدرت په ویشلو سره یوتوافقنامه لاس لیک کړل. دکارپوهانو له نظره هغسی یوتوافقنامه چی دافغانستان دپراخو رنځونو اود دردونو دعلاج دپاره دیو مسکن دوا یا دارو حیثت لری نه داچی ددرد عامل له بیخه وچ کړی .

دلته اشرف غنی دافغانستان دجمهور ریس دګټونکی په صفت کوم چی هغه په رسمی بڼی سره دافغانستان دانتخاباتو د مستقل کمیسون له طرفه اعلان شواودروان شخړی څخه تر یوه حده پوری مخنیوی وشو لری نه ښکاری چی په راتلونکی هفته کی د ځلورو لاندنیو سوالونو طرح رامینځته نشی ؟ اوهغه داچی :

لمړی سوال : دافغانانوغبرګون ددی نوی جوړجاړی یا ددی نوی وحدت ملی حکومت په اړین څه دی ؟

دزړه ورو طا لبا نو رغړیدل اود هغوی ګواښ رای ورکونکو ته د نوی جمهور ریس دټاکل کیدو په آړین ددی د پا ره نه وه چی په تحمیلی بڼی له د با ند ی څخه ددی دوو رقیبو کاندیدانو ترمینځ دجوړجاړی دحل لاره رامینځته شی کوم چی هغوی دوحدت ملی په حکومت کی سره قدرت په مساوی بڼی وویشی ، حال داچی ډیر نوری لاری موجود وه چی روان بحران په ا سا نی او په یو ریښتیا نی لړلید اومد نی برخورد سره دغه شخړی له مینځه وړل شوی وای.

دوهم : ایا داکتر عبدالله «عبدﷲ» به ددی توان ولری چی پرخپل سخت دریزو پلویانو

با ندی کنترول وسا تی ؟

په دی وروستیو هفتو کی دعبدالله ګڼ شمیر پلویان د خپل مخکینی برنامی له مخی داسی اذعان کړی دی چی که چیری زمونږ کاندید یعنی داکتر عبدالله دافغانستان ګټونکی ریس جمهو اعلان نشی اویاداچی په نوی حکومت کی هغه ته مسا وی قد رت ورنکړل شی مونږ په افغانستان کی به ځنی سیمیز دولتی مقامات تر خپل ولکی لاندی راوړو چی هغه وخت به هیڅ داسی یو قدرت به نه وی چی زمونږ مخه ونیسی او دوی خپل بغاوت او نافرما نی داحمدشاه مسعود د تلین په غونده کی راښکاره کړل چی حتی خپله عبدالله عبدالله هم ونشو کړلی چی هغوی ارامش اوسکوت ته را وکاږی هغه وخت چی داشرف غنی یوپلوی دهغوی په غونډه کی وینا کول .

دریم: ایا اشرف غنی به واقعاً قدرت وویشی :؟

دموافقه شوی حکومت وحد ت ملی مشروعیت یواځی دموافقتنا می د مندرجا توله مخی خپل ریښی اواعتبا رترلاسه کړی کوم چی ددوو رقیبو کاندیدانو ترمینځ لاس لیک شوی دی نه داچی دغه حکومت دافغانستا ن د خلکو په اراده اویا دافغانستان داساسی قانون له مخی خپل مشروعیت اوریښی ترلاسه کړی وی ، نوپه دی دلیل دحکومت وحدت ملی دپا ره دلته هیڅ یوقانونی اعتبا ر اویا چوکات چی پر هغه باندی ډډه ولګول شی نه ترسترګو کیږی اویا داچی دغه حکومت کوم ثابت اوقانونی پایی نه لری چی ثابت پاتی شی اودویجاړیدوپرلوری لاړ نشی اودا په دی معنی چی« اشرف غنی» وړونکی منتخب جمهورریس به په پرله پسی بنی سره اوضاع اوحالات به دخپل ګټی په نظرکی نیولوسره به تفسیر اوتوضیح کړی که چیری دغه دوه رقیبان اود هغو ی پوری تړلی پلویان په دغه حکومت کی ونډه تر لاسه کړی اویا د لوړو ځوکیو خاوندان شی نو په هغه صورت کی به ددواړه خواوو ترمینځ مشاجره اونزاع به پیل شی اوپه دی وخت کی اشرف غنی به دخپل قدرت دپیاوړی کیدو دپاره دلاس لیک شوی موافقی یا د تصریح شوی موافقی شرطونو څخه به ګټه ترلاسه کړی کوم چی هغه ته به اجرایوی مد یریا د موافقتنا می د پلویا نو د مشر له طرفه ځواب ورکړ شی.

څلورم :طا لبا ن به څه وکړي ؟

محمد اشرف غنی «احمدزی» دافغانستان منتخب جمهور ریس په داګه کړی چی هغه غواړی دطا لبا نوسره دسولی مرکه پیل او تعقیب کړی اما داکتر «عبدالله » د شما ل دجنبش مخکینی و تلی شخصیت او د طا لبا نو سره ضد اومخا لف غواړی چی په دی برخه کی محتا طا نه ګا مونه اوچت کړی . اودهمدی وضعی په نظر کی نیولو سره ددی د پا ره چی طا لبا نو دغنی اودعبدالله تر مینځ فا صله ایجا د کړی ممکن وغواړی چی داشرف غنی سره مذاکری ته حا ضر شی او دعبدالله سره مرکه اومذاکره رد کړی

یا داسی ووایی چی مونږ داشرف غنی سره مرکه اومذاکره کوو اما د عبدالله سره نه غواړو چی مذاکره وکړو. یا داچی ممکن طا لبانود با ند نیو نظا می قوتونو شتون په افغانستان کی ونه منی او دهیچا سره مذاکری ته حاضر نشی بلکه د جګړی په میدان کی جنګ ته لاپسی شد ت ورکړی اوپه دی توګه داشرف غنی «احمدزی» اودعبدالله «عبدالله» ترمینځ د مذاکراتو دارزش په نظرکی نیولو سره یو لوی درز اوفا صله ایجا دکړی . په یوهیواد کی کوم چی دهغه وګړی سره ویشل شوی وی لکه افغانستان نو هرډول درز کولاسی شی چی د وحدت ملی حکومت دپاره ستونزی رامینځته کړی هغسی ستونزی چی دتوما س هوبس (Thomas Hobbes) پواسطه سره افاده شوی : ناولی ، زیږ«وحشی» او لنډ -- هیله کیږی چی د افغانستا ن نوی لید رشف یا مشرتا به دغسی بدمرغیوڅخه ډډه وکړی اوخپل پلویا نوته حق ورنکړی چی حالات کړکیچن کړی

دغه ټول موجوده بدمرغی کوم چی دافغانستان خلک دهغه سره لاس په ګریوان دی دهغه اصلی عامل خپله دمجاهدینو ډلی اوټپلی دی چی دپردیو په لمسون دشهید دوکتور نجیب الله هغه افغا نی وړاندیز کړی شوی ملی روغه جوړه ونه منل سره د هغه چی ددغو اوسنیو مجاهدینو پوزه دجلال آباد په جګړه کی په خاوری سره ومږول شو اوله هغه څخه هم عبرت وانه خیستل ، کابل یی پخپل مینځی جګړو کی وران کړل خپل جیبونه یی دافغانستنان دخلکو اودبیت المال په پیسو ډکی کړل اواوس بیاهم دوطنپرستی چیغی وهی، ایا ستاسی ناکردی دافغانستان د خلکو څخه به دیاده ووځی ا یا دمرحوم دوکتور نجیبالله د حکومت غړی اوپلویان چی په پوره پاک نفسی سره دتاسو دراکټونو په مقابل کی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کول هغه به دافغانستان دنجیبو خلکو په خاطرو کی به پاتي نشی ، په داګه درته وایم چی غل ، داړه ما ر ، مفسد او قاچاقبر به هیڅکله اوپه هیڅ بڼی سره به ونشی کړلی چی دافغانستان د اولس د پاره خدمت وکړی ، دافغانستان خلک به تر یوه وخته پوری دغه حالات به وزغموی اما تا سی مجا هید ین اواشرار په یاد ولری چی د تا سو سره دافغانستان دخلکو محکمه هرومرو دی او هرڅه چی وکړی تاریخ ته محکوم یاستی اودتاسو هغه ناپوه روشنفکران چی دپیسو په بدل کی له تاسو څخه پلوی کوی په زړه کی څه شی مه راوړی دا دهر مرتجع روشنفکر دنده دی چی خبل وجدان خرڅ کړی د ظا لمواو خدای نا ترسو واکدارانو دپا ره خدمت وکړی .

رفرنسونه :

Antiwar , Washington post, new York time , counterpunch , information clearing house, common Dreams , global research and Guardian .

په درناوی ۲۰۱۴-۹-۲۶ ------------------------------------